الدرس الثاني | دوهم درس
آداب الباس | د لباس(جامو) آداب

٥-دپـړکو(ګيټو) نه پرتوګ يا لنګ ښکته کول سړو باندی حرام دی ، د ابوهريره رضی الله عنه نه روايت دي چی رسول الله ﷺفرمائيلی دی :
«**مَا أَسْفَلَ مِنَ الْكَعْبَيْنِ مِنَ الإِزَارِ فَفِي النَّارِ**».
ترجمه :هغه جامه چی دګيټونه (پړکونه) لاندی وی ، هغه به په أُور کښې وی .
د ګيټو (پړکو) نه جامه ښکته کول حرام دی ، که قميص وی که پرتوګ وی ، که لنګ وغيره وی ، دا حکم صرف د تکبر والو دپاره ندي بلکه د متکبر سزاء نوره هم سخته وی ، په حديث د عبدالله بن عمر رضی الله عنه کښې راغلی دی،
قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «**مَنْ جَرَّ ثَوْبَهُ خُيَلاَءَ لَمْ يَنْظُرِ اللَّهُ إِلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ**» متفق عليه.
ترجمه : چی خپله جامه د تکبر د وجی نه زمکه باندی راښکله الله تعالی به د قيامت په ورځ ورته درحمت نظر ونه کړی .
او ښځه باندی أُوږدی جامی جوړول فرض دی چی ټول بدن ئی پکښې پټ وی .
٦-دومره باريکی او تنګی جامی چی عورت او اندامونه پکښې ښکاری سړو او ښځو دپاره جائزندی .
٧-سړو دپاره د ښځو مشابهت کول او ښځو له د سړو مشابهت کول حرام دی ، عبدالله بن عباس رضی الله عنهما فرمائی :
«**لَعَنَ رَسُولُ الله صلى الله عليه وسلم الْمُتَشَبِّهِينَ مِنَ الرِّجَالِ بِالنِّسَاءِ وَالْمُتَشَبِّهَاتِ مِنَ النِّسَاءِ بِالرِّجَالِ**» رواه البخاری.
ترجمه : رسول اللهﷺ هغه سړو باندی لعنت وئيلی دی چی ښځو سره ځان يو شان کوی ، او هغه ښځو باندی چی د سړو سره ځان يوشان کوی .
٨-د کافرانو سره په لباس کښې مشابهت حرام دی چی مسلمان هغه جامه واچوی چی د کافرانو دپاره خاص وی .عبدالله بن عمرو رضی الله عنه فرمائی : چی رسول الله ﷺ ما باندي دوه زعفراني رنګي جامي وليدلي ، وِي فرمائيل: «**إِنَّ هَذِهِ مِنْ ثِيَابِ الْكُفَّارِ فَلاَ تَلْبَسْهَا**» مسلم:٢٠٧٧ ، ترجمه : داد کافرانو لباس دی دا مه اچوه.